(1)

## لوړ همت د پرمخ تللو ملتونو لاره ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دي چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي:« **سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ »** ژباړه:« **د خپل رب د مغفرت او د هغه جنت خوا ته وځغلئ او يو له بل څخه د وړاندي کېدو هڅه وکړئ، چي د هغه (جنت) پراختيا د اسمانونو او ځمکي په څېر ده، د هغو خلکو لپاره تيار کړای شويدی چي پر الله او د هغه پر پېغمبرانو يې ايمان راوړی وي. دا د الله فضل دی، چا ته چي غواړي ورکوي يې، او الله د ستر فضل خاوند دی.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زموږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د اسلام مبارک دين پخپلو لوړو لارښوونو سره خلک لوړ همت کوښښ اجتهاد او بيا رغاوني ته هڅولي دې او دوی يي د لټی او د فساد څخه منعه کړې دې، په همدې باندې د اسلام څخه مخکې نور رسالتونه هم راغلي دي پدې هکله الله تعالى فرمايي: «أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى * وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى * أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى * وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى * وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى * ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَى»ژباړه:« ايا هغه ته د هغو خبرو څه خبر ندی رسېدلی چي د موسی (ع) په صحيفو کي؛ *او د هغه ابراهيم (ع) په صحيفو کښي ويل شويدي چي د وفا حق يې اداء

کړ؟ *دا چي هيڅ پېټی اخيستونکی به د بل چا پېټی وانخلي؛ *او دا چي د انسان لپاره (د کړنو بدله) پرته د هغه د تلاښ او کوښښ څخه بل هيڅ نشته؛ *او بېشکه دا چي د هغه د تلاښ او کوښښ (بدله) به ډېره ژر وليدل شي؛ او بيا به د هغه پوره بدله هغه ته ورکړه شي؛»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم د همت د لوړوالي قدرداني کړې ده لکه چې هغه صلی الله عليه وسلم فرمايي: يقينا الله جل جلاله کريم ذات دی او کرم خوښوي همدارنګه لوړ اخلاق خوښوي همدارنګه پدي برخه کې د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه وينا هم ده چې وايي تاسو خپل همتونه کم مه ګڼئ، همدارنګه پدې برخه کې ويل شوي د عقل د بشپړوالي د نښو څخه د همت لوړوالی دی الله تعالی دې ابو طيب متنبي ته خير ورکړې چي ويلي دي: زه د خلکو په عيبونو کې څه نه ګورم* لکه د بشپړوالي توانمندان چي کوتاهي کوي.
د همت لوړوالی يواځې يو ډګر ته نه شامليږي چې ترسره شي بلکه مناسبه ده چې دا بايد په ټولو هغو چارو کې ثابت شي چې انسان يي پخپل ژوند کې سرته رسوي چې لدې جملي څخه عبادت هم دی اسلامی شريعت خلک ديته هڅولي ترڅو د عبادت په ډګر کې چټکې او يو له بل سره مخکې والی وکړي لکه چې الله تعالی فرمايي: « وَسارِعُوا إِلى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّماواتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ»ژباړه:« پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چي ستاسي د پروردګار د ښښني او د هغه جنت خوا ته تللې ده، چي هغه (جنت) لکه د اسمانونو او ځمکي په شان پراخ دی، او هغه د هغو خداپه وېرېدونکيو خلکو لپاره تيار کړای شويدی؛»، او يقينا الله تعالی د هغه چا لپاره چي په عبادت کي کوښښ او هڅه کوي د لوی اجر ضمانت کړی دی لکه چي فرمايي: « وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا»ژباړه:« او څوك چي د اخرت هيله من وي او د هغه لپاره هلي ځلي وكړي،

هغسي هلي ځلي چې د هغه لپاره په کار دي او هغه مؤمن هم وي، نو د هر دغسي وګړي هلو ځلو ته به د قدر په سترګه وکتل شي».
نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپل ژوند په ټولو چارو کې د لوړ همت څخه کار اخيستلو چې پدې کې عبادت هم راځې پدې هکله الله تعالی فرمايي: « يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا * نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا * إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا»ژباړه:« اې (په جامو کې) ځان نغښتونکيه، ويده کېدونکيه! *شپه په لمانځه کښې په ولاړي تېره کړه خو کمه* يا نمايي شپه، يا له هغې څخه يو څه کمه کړه، *يا له هغې څخه يو څه زياته کړه؛ او قُرآن ښه په کراره کراره لوله*موږ پر تا باندي د يو درانده کلام نازلوونکي يوو.»، همدارنګه نبې کريم صلی الله عليه وسلم به د شپې دومره ډير الله ته اودريدلو چې خپې مبارکي به يي دردونه کول کله چې تري پدې هکله پوښتنه وشوه نو وې فرمايل: آيا زه شکر ويستونکی بنده نه ووسم؟.
هغه به هميشه خپل صحابه کرام او ټول امت لوړ همت ته رابللو پدې هکله نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې تاسو د الله تعالی څخه سوال کوئ نو د فردوس جنت سوال ترې وکړئ ځکه دا منځنی او لوړ جنت دی چې د رحمن ذات عرش پري له پاځه دی او د جنت ويالي له همدي څخه بهيږي، او د ربيعه بن کعب رضی الله عنه څخه روايت دی وايي ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ترڅنګه شپې تيرولي نو د اودس لپاره مې ورته اړتياوي راوړلي نو راته يي وويل څه وغواړه نو ما ورته وويل زه ددی سوال کوم چې له تا سره په جنت کې ووسم بيا يي وفرمايل ددي نه پرته نور ما وويل بيا هم همدا غواړم نو بيا يي راته وفرمايل خپل نفس په زياتو سجدو باندې آموخته کړه.
په عبادت کې د همت لوړوالی ددې غوښتنه کوې چې عبادت په ښه ډول سرته ورسيږي او د عبادت اغيزې د انسان په سلوک اخلاقو کې ځرګند شې پداسي ډول چې درواغ ونه وايي خيانت ونکړې دوکه او فريب

ونکړې د خلکو مالونه په باطله سره ونه خوري نو پدې سره د عبادت د ادا کولو موخه لاسته راځي چې په ترڅ کې براروالی رامنځته کیږې چې دا پخپله د دین بنسټ ګڼل کیږي.
د همت د لوړوالي د لویو ډګرونو څخه لومړی ډګر هم د علم ډګر دی لکه څرنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کړي دي چې د الله تعالی څخه د ګټور علم غوښتونکې ووسو چې ګټه یې ټول امت ته ورسیږي، لکه چې فرمایی:د الله تعالی څخه ګټور علم وغواړي او د بي ګټي علم څخه هغه ته پناه یوسي، او خپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم به داسی دعاء کوله : یا الله د بي ګټي لم څخه تاته پناه غواړم..، نو ګټور علم یواځني هغه سلاح ده چې د هیوادونو او د ملتونو د پرمختګ لامل ګرځي ځکه هر هغه هیواد پرمختګ کړي چې د علم خاوندان وو اوهر هغه هیواد چې شاته پاتي دي د بی علمي او د علم څخه د لریوالي کبله دي.
صحابه اوتابعین رضوان الله علیهم د علم په زدکړه کې ترټولو خلکوباهمته وو، لکه څرنګه چې ابي هریره رضي الله عنه د علم په طلب کې د لوړ همت خاوند وو لکه چې ویل یی: زه نه د دښتوکښت د رسول الله څخه لري کړی وم اونه هم د بازار راکړي ورکړي، ځکه هره خبره مې چې د رسول الله څخه اوریدله هغه به مې زده کوله...بیا ابن عمر رضي الله عنه ویل: ای اباهریره: ته ترټولومونږ.څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د احادیثو په پوهه او زدکړه کې نژدی یی،اواسماعیل بن یحیی وایي:د امام شافعي رضي الله عنه څخه مې واوریدل چې ویل یی:قرانکریم مې په اووه کلني کې حفظ کړ، او په لس کلني مې د امام مالک موطا حفظ کړه، اوامام احمد بن حنبل رحمه الله زر حدیثه حفظ کړي وو او ویل کیږي چې امام نووي رحمه الله روزانه به دولسو حلقو ته حاضریدلو.
همداسی زمونږ پخواني علماؤ په هربرخه کې د علم امانت یی په غاړه اخیستی اود هغه رسالت یی په پوره اخلاص سره نورو خلکو ته رسولی دی، ترڅو وکولي شي د الله تعالی رضایت لاسته راوړي او ګټه یی ټول

بشريت ته ورسوي، نو پدغه کار سره یی خپل نوم او علم یی په زرینو کرښو د بشریت په تاریخ کې ثبت کړي دي، الله تعالی فرمایي:« فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ» ژباړه:« کوم چي ځك دی هغه بې ګټي له منځه ځي او کوم شی چي د انسانانو لپاره ګټور دی هغه په ځمکه کښي تمیږي».
اوځیني نورد همت د لوړوالي د برخو څخه د کار او عمل برخه ده، اسلامي شریعت د کار او مقام یی لوړ ګرځولي دی، لکه څرنګه چي قرانکریم د عبادت او عمل په منځ کې جمعوالی راوستي او دا دواړه یی یو بل ته نژدي بللي دي،لکه چې الله تعالی فرمایي:« فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ» ژباړه:« بیا کله چي لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښي خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر یادوونکي اوسئ. ښایي چي تاسي ته بری په برخه شي.»، اوالله تعالی هغه څوک چې خپل مسئولیت او کار په ښه توګه سره سرته ورسوي په دنیا کې د ښه ژوند او د آخرت په نعمتو باندي ورته زیري ورکوي لکه چې فرمایي:«مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ» ژباړه:« هر څوك چي ښه عمل وکړي که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چي مؤمن وي، پر هغه به موږ په دُنیا کښي سپېځلی ژوند تېر کړو او (په اخرت کښي به) دغسي خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.»،اوپه بل ځاي کې فرمایي:« إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا» ژباړه:« البته کومو کسانو چي ایمان راوړی او ښه عملونه یې وکړل، د هغو مېلمستون به د فردوس باغونه وي».
همدا شرافت د کاراوعمل لپآره بسنه کوي چې ټولو پیغمبرانو کار کولو لکه څرنګه چې آدم، ابراهیم او لوط علیه السلام بزګران وو، نوح علیه السلام ترکاڼ وو، ادریس علیه السلام خیاط وو، صالح علیه السلام تجار

وو،او داود علیه السلام آهنگر وو، الله تعالی فرمایي:«وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًاۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ * أَنِ ٱعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِي ٱلسَّرْدِۖ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ» ژباړه:« موږ داؤد (ع) ته له خپل لوري څخه لوی فضل په برخه کړی ؤ. (موږ حکم وکړ چي) اې غرونو! له هغه سره هم غږي اوسئ (او همدغه حکم موږ) مرغانو ته وکړ. او موږ اوسپنه د هغه لپاره پسته کړه؛ *له دې لاربښووني سره چي زغري جوړي کړه او د هغو کړئ په سمه اندازه (ور کړه). (اې د داود کورنۍ!) نېك عمل وکړئ، تاسي چي څه کوئ زه هغه وینم.»، نو د انسان ارزښت د هغه د کار په ذريعه لوړيږي او شرافت یی په برخه کیږي ځکه کار کول غوره دی د چا څخه د غوښتلو او سوال کولو نه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: دا چې څوک له تاسو څخه لري راجمع کړي او خرڅ یی هغه ته ددی نه غوره ده چې سوال وکړي د خلکو نه چې شاید څوکورته ورکړي او څوک ورته ورنکړي.

پدي برخه کې یواځې کار کول هدف ندی، بلکي کار باید سم او ماهرانه وي نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: الله تعالی خوښ ګڼي هغه کار چې تاسو په سم او ماهرانه ډول ترسره کړی، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم حرص درلودو چې هر شخص باید د یو کسب خاوند وي چې خپل ځان او نورو ته ګټه ورسوي لکه چې فرمایی: په هر مسلمان شخص باندي د صدقی ورکول واجب دي، وویل شول: ای د الله رسوله هغه څوک چې یی نلري څنګه؟ وفرمایل: پخپل لاسو د کار وکړي ترڅو د هغه څخه ګټه واخلي او صدقه هم ورکړي.، وویل شو: او که پیدا نکړ څنګه؟ وفرمایل: یو اړتیا لرونکې شخص ته پخپل لاسونو مرسته وکړي، وویل شو: که داسی انسان یی پیدا نکړ نو څنګه؟ وی فرمایل: نو تل د ښه کار ترسره کړي او د بدیو څخه د ځان وساتي دا کار د هغه لپآره صدقه دی.،لکه څنګه چې لیدل کیږي نبي کریم (ص) هغه څوک چې کارنشي

کولي نو هغه یی د بدو کارو څخه په منع کولو هڅولي دي او په پریښودلو یی هڅونه کړي ورته او ددغه کار ثواب یی ورته زیری ورکړی.
اود لوړ همت لرولو غوره مرتبه د ټولني لپآره د خدمت کولو همت دی، او هغه د کمزورو او ضعیفو خلکو سره مرسته، او د مظلوم خلکو لاس نیوي او د اړمندو خلکو د اړتیاوو پوره کول دي، یو سړي رسول الله (ص) ته راغی او وی ویل: اي د الله رسوله! کوم شخص د الله په نزد ترټولو محبوب او کوم عمل د الله په وړاندي تر ټول غوره دی؟ وی فرمایل: ترټولو محبوب شخص د الله په وړاندي هغه څوک دی چې ټول خلکو ته یی ګټه رسیدلی وي او ترټولو غوره عمل د الله په نزد هغه عمل دی او کسب دی چې د هغه په ذریعه د بل مسلمان زړه خوښ شوی وي، یا د هغه څخه د ستونزو لری کول، او یا د هغه د اړتیاو پوره کول او د هغه د قرض اداء کول دی او دا چې زه د یو مسلمان ورور د مرستی لپآره ولاړ شم ماته د یو میاشت اعتکاف څخه غوره دی چې په مدیني منوري کې یی ترسره کړم، څوک چې خپل غضب کنترول کړي نو الله تعالی د هغه ستر پټوي او څوک چې خپله غوصه آرامه کړي نو الله تعالی د هغه زړه د قیامت په ورځ د امنیت او ارامتیا څخه ډکوي، او هر هغه څوک چې د خپل مسلمان ورور د اړتیا د پوره کولو لپاره ولاړ وي نو د هغه قدمونه به الله تعالی د قیامت پرمځ به د صراط په پله به ثابت پاتي وي په هغه ورځ چې د ټولو قدمونه به رپیږي.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او

برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملگرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**
په واقعیت کې یو د ډیرو لویو همتونو څخه چې باید مونږ ولرو او په ډگر کې باید زیار وباسو هغه د وطن لپاره د خدمت ډگر دی، ځکه د وطن لپآره خدمت د ایمان یوه برخه ده، او الله تعالی مونږ ته امر کړه چې د نیک کار لپآره چې په خیر یی وهیواد ته رسیږي چې په هره برخه کې وي باید زیار وباسو او هڅه او رقابت وکړو ځکه چې الله تعالی فرمایي:«فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ» ژباړه:« په هغه کښي تاسي وازمائي. نو په غوره چارو کښي یو له بل څخه د وړاندي کېدو هڅه وکړئ. په پای کښي ستاسي ټولو د خدای لوري ته ورگرځېدل دي. بیا به هغه تاسي ته اصلي حقیقت چي تاسي په کښي اختلاف کوئ، در وښيي.» او الله هغه خلک ستایلي دي چې په نیکي کې یو پر بل ځان مخکې کوي او غواړي چې خلکو ته خیر ورسوي او الله تعالی دا بیان کړي چې ددغه خیر به په دنیا او آخرت کې د هغه خاوند ته ورپه برخه کیږي لکه چې فرمایي:« إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ» ژباړه:« دغو کسانو د نېکۍ په چارو کښي منډي توړي کولې او موږ یې له میلان او وېري سره بللو، او زموږ په وړاندي غاړه ایښودونکي ول».
او ځیني نور د لوړ همت لرولو د جملي څخه هم د هیواد د جوړولو همت دي او خپل ټولنیز مسئولیت اداء کولو همت دی لکه د جوماتو جوړونه، د مدرسو جوړول، د روغتونونو جوړول او د مریضانو دوا کول نو دا ټول موضوعات صدقه جاریه دی،چې گټه یی تل خاوند ته رسیږي لکه چې نبي کریم (ص) فرمایي: اووه کاره دي چې اجر یی خاوند ته پس له مرگه په قبر کې ورکول کیږي: هغه څوک چې یو څه یاد کړي او نورو ته یی

ورزدکړي، یا یو کوهي او څاه جوړ کړي، یا یو ونه کینوي، او یاهم جومات جوړ کړي، او یا هم یو مصحف په میراث پریږدي او یا هم دا اولاد تري پاتي شي چې پس له مرګه ورته دعاء وکړي او استغفار ورته ووایی.
نو څومره به ښه وي چې مونږ د خپل هیواد د آبادي لپاره چې زمونږ د ټولو کور دی او خیر یی مونږ ټولو ته رسیږي مسابقه او مخکښي وکړو او دا هغه وخت امکان لري چې مونږ د یو بل سره اتفاق ولرو او یو له بل سره مهرباني وکړو او د هر چا لپآره د مرسته لاس مخته کړو ځکه هیواد زمونږد ټولو دی او مونږ ټولو سره پرمختګ کوي، او له نرو څخه کم ارادي، ضعیف او بیکاره نه یو ځکه مونږ د تمدن او د تاریخ خاوندان یو او پدي باندي باید ځان پوه کړو چې ارمانونو اوټولنیز پرمختګ رسیدلو لپاره باید ستونزي تیر کړو او د موانعو څخه باید تیر شو او ځانځاني پریږدو، انسان هغه وخت ګټو او خیر ته لاس رسی پیدا کوي چې ستونزي وزغمو او تحمل وکړو او الله تعالی دی آبی ته خیر په برخه کړي ې فرمایي:
ارامتیا ته مي په لوړه وکتل نو پوه شوم چې د ستونزو د پل څخه د تیریدو نه پرته لاسته نه راځي.

**یا الله مونږ ته لوړ همت په برخه کړي چې د هغه په واسطه علمي او ټولنیز پرمختګ ته ورسیږو زمونږ هیواد او ټول اسلامي هیوادونه ساتنه وکړه.**